**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د خلافت دولت تر تاسیس وړاندې ترسره شوي تړونونه، راکړې ورکړې او قضاوتونه

ابوداوود په خپل سنن کې له عبدالله بن عباس څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**"كُلُّ قَسْمٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلَى مَا قُسِمَ لَهُ وَكُلُّ قَسْمٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلَى قَسْمِ الْإِسْلَامِ"**

**ژباړه:** *هر مال (ځمکه او کور) چې د جاهلیت په دور کې ویشل شوی؛ هماغسې پاتې کېږي او هر مال چې د اسلام په دور کې ویشل کیږي، ویش به یې د اسلام پر اساس وي.*

د عـون المعبـود کتـاب لیکـوال وایـي چـې (**کـل قَسـمٍ**) مصـدر دی او د ویشـل شـوي مـال معنـی لـري او (**قُسِـمَ**) پـه مجهوله صیغه راغلی.

خطـابي وایـې: دا حـدیث ښـیي چـې د مـالونو، توکـو او نکـاح احکـام چـې د جاهلیـت پـه دور کـې تـرسره شـوي بیـاځلې په اسلام کې نه تجدیدېږي او که دغه احکام د اسلام په دور کې ترسره شي، د اسلام حکم پرې پلی کیږي. پای

حافظ شمس الدین بن قیم رحمه الله وایې چې لاندې ایت پر پورتني حدیث دلالت کوي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّه وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنْ الرِّبَا﴾ [بقره: 278]**

**ژباړه:** *«اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړی له خدایه وویریږئ او له سود څخه راغلی مال (ګټه) پریږدئ.»*

پـه دغـه ایت کـې اللـه سـبحانه وتعـالی امـر کـړی چـې کـه مـو کـوم سـود پـاتې وي، پـرې یـې ږدئ او څـه یـې چـې پخـوا اخیستي، هغو ته یې اشاره نه ده کړې؛ بلکې هغوی ته یې پرېښي.

لـه هغـې نکـاح او طریقـې سره یـې هـم مخالفـت ونـه ښـود چـې پخـوا تـړل شـوې؛ بلکـې تاییـد کـړې یـې دي. خـو د کـوم حکـم پـه اړه چـې پـه اسـلام کـې یـې د بطلان ښـکاره دلیـل و، هغـه یـې باطـل کـړ؛ لکـه لـه یـوه سـړي سره د دوو خوینـدو نکـاح او لـه څلـورو زیـاتو ښـځو سره نکـاح؛ ځکـه چـې دا مـوارد سـود تـه ورتـه دي. دغـه راز رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د هېڅـا تـر مسـلمانېدو وروسـته د هغـه د مـال او د هغـه د ترلاسـه کولـو د لارې پـه اړه ونـه پوښـتل او نیوکـه یـې پرې ونه کړه. دا د شریعت له اصولو څخه دی چې ډېری احکام پرې بنا دي.

د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم دغـه حـدیث شریـف د جاهلیـت د دور لـه تړونونـو، معـاملو او قضـاوتونو سره د اسـلامي دولـت تعامـل روښـانه کـړ. د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم دغـه قضـاوت د اوسـني عصرـ د هغـو تړونونـو، معـاملو او قضـاوتونو پـه اړه هـم سـم دی چـې د بشرـ پـه لاس جـوړو قوانینو پـر اسـاس کیـږي. راشده خلافت، چـې راتـګ یـې انشاالله نیـږدې دی، بـه د نبـوي سـنتو او دغـه ایـت (**یَـا أَیُّهَـا الَّـذِینَ آمَنُـوا اتَّقُـوا اللَّـه وَذَرُوا مَـا بَقِـيَ مِـنْ الرِّبَـا**) پـر بنسـټ حکـم کـوي. دا هغـه کـار دی چـې رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم پـه مدینـه منـوره کـې د اسـلام د لـومړني دولـت د تاسـیس پـر وخـت کـړی و؛ پـر دارالاسـلام د مـدینې منـورې لـه بدلېـدو سره هغـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د جاهلیـت د دور تړونونـه، معـاملې او قضـاوتونه باطـل نـه کـړل. د مکـې تـر فتحـې وروسـته رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه

وسلم خپل هغه کور ته ستون نه شو چې هجرت یې ترې کړی و؛ ځکه چې د کاکا زوی یې، عقیل بن ابی طالب د قریشو د قانون پر بنسټ (پر هغو کسانو پلی کېده چې مسلمان شوي وو او هجرت یې کړی و) د خپلو هغو خپوانو وارث و چې مسلمان شوي وو یا یې هجرت کړی و. هغه ټول اموال، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور هم پکې شامل و، تصرف او وپلورل. د مکې تر فتحې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم دا بیع فسخه نه کړه؛ بلکې ویې ومنله او ورته پابند و. په صحیح البخاري کې له اسامه بن زید څخه روایت شوی چې ویې ویل:

**" قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا؟ - فِي حَجَّتِهِ – قَالَ: وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مَنْزِلًا؟"**

**ژباړه:** *و مې ویل یا رسول الله، سبا په کوم ځای کې اوسېږې؟ - په حجهٔ وداع کې - ویې فرمایل: عقیل موږ ته کوم کور پرېښی!؟*

څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو او مهاجرو هغه نکاحګانې باطلې نه کړې چې تر اسلام وړاندې یې کړې وې؛ بلکې ویې منلې. ان تر دې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم ابوالعاص، د زینب خاوند، کله ایمان راوړ؛ هغه صلی الله علیه وسلم یې نکاح تجدید نه کړه. زینب تر هغه وړاندې مسلمانه شوې وه او هجرت یې کړی و؛ خو بیا یې هم زینب د همغې نکاح پر بنسټ بېرته ورکړه چې د جاهلیت په دور او تر اسلام وړاندې شوې وه. ابن ماجه راویت کوي:

**" عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَدَّ ابْنَتَهُ عَلَى أَبِي الْعَاصِ بْنِ الرَّبِيعِ بَعْدَ سَنَتَيْنِ بِنِكَاحِهَا الْأَوَّلِ"**

***ژباړه:*** *له ابن عباس څخه روایت دی چې* رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله لور زینب وروسته له دوو کلونو په هغه لومړی نکاح ابوالعاص بن ربیع ته بېرته ورکړه.

ټول تړونونه، معاملې او قضاوتونه چې د خلافت تر اقامې وړاندې شوي او د دواړو لوریو ترمنځ بشپړ شوي دي؛ صحیح دي او د خلافت دولت قاضیان یې نه فسخه کوي؛ خو دغه درې استثنا موارد شته:

١. که دغه منعقده قضیه داسې اغېز ولري چې تل له اسلام سره په ټکر کې وي؛ لکه د الله سبحانه و تعالی دغه قول:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنْ الرِّبَا﴾ [بقره: 278]**

**ژباړه:** *«اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، له خدایهووېرېږئ او هغه اضافه مال چې له سود ترلاسه شوی، پرېږدئ.»*

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلامي دولت تر تاسیس وروسته پاتې شوی سود ساقط کړ او خلکو ته یې خپل اصل مال ورکړ. ابو داوود له سلیمان بن عمرو او هغه له خپل پلاره روایت کوي:

**سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَقُولُ: "أَلَا إِنَّ كُلَّ رِبًا مِنْ رِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ لَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ".**

**ژباړه:** *په حجة الودع کې مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویې فرمایل: خبر اوسئ چې د جاهلیت د وخت ټول سود مو له اوږو لرې شوی او یوازې اصله شتمني په تاسو پورې اړه لري. مه ظلم کوئ او مه پر ځان ظلم ته اجازه ورکوئ.*

دغه راز څوک چې د جاهلیت د قوانینو پر بنسټ تر څلورو ډېرې ښځې لري؛ باید د خلافت تر راتګ وروسته یوازې څلور وساتي او نورې خوشي کړي؛ ترمذي په خپل سنن کې له عبدالله بن عمر څخه روایت کوي:

**أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَخَيَّرَ أَرْبَعًا مِنْهُنَّ.**

**ژباړه:** *غیلان بن سلمه ثقفي په داسې حال کې ایمان راوړی و چې لس ښځې یې وې او ټولو ښځو یې له ده سره یوځای ایمان راوړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته امر وکړ چې د هغوی له منځه دې یوازې څلور ښځې ځان ته وټاکي.*

دغه راز هغه تړونونه چې داسې اثر ولري چې له اسلام سره تل په ټکر کې وي، د خلافت تر راتګ وروسته یې د حکم ساقطول واجب دي.

۲. که موضوع په هغو کسانو پورې اړه ولري چې اسلام او مسلمانانو ته یې زیان رسولی وي:

څکه د مکې د فتحې پر وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو هغو خلکو وینه مباح کړه چې د جاهلیت په دور کې یې اسلام او مسلمانانو ته زیان رسولی و. نسائي په خپل سنن کې له مصعب بن سعد او هغه له خپل پلار څخه روایت کړی:

**"لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ أَمَّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلَّا أَرْبَعَةَ نَفَرٍ وَامْرَأَتَيْنِ وَقَالَ اقْتُلُوهُمْ وَإِنْ وَجَدْتُمُوهُمْ مُتَعَلِّقِينَ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ."**

**ژباړه:** *د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له څلورو نارینه‌وو او دوو ښځو پرته ټولو خلکو ته امان ورکړ او ویې فرمایل: هغوی پیدا کړئ او که یې څانونه د کعبې په پرده پورې هم ځوړند کړي وو، ویې وژنئ.*

سره له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**الإسلام يجب ما قبله**؛ اسلام هغه څه پاکوي/له منځه وړي چې پخوا وو» خو چا چې اسلام او مسلمانانو ته زیان رسولی وي، له دغه حدیثه مستثنی دی.

هغه حدیث چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دغو خلکو ځینې کسان، لکه عکرمه بن ابو جهل وبښل؛ دا ښیي چې خلیفه دا واک لري چې دغو کسانو ته سزا ورکړي یا یې وبښي. دا حکم په هغو کسانو پورې اړه لري چې مسلمانان یې د حق ویلو لپاره ځورولي وي یا یې اسلام ته سپکاوی کړی وي؛ دا حدیث «**الإسلام يجب ما قبله**» په هغوی پورې اړه نه لري او له دغې ښنې مستثنی دي؛ خلیفه چې هر څه وغواړي، هماغسې ورسره کېږي.

۳. که د غصب شوي مال په اړه وي چې لا هم د غاصب په لاس کې دي:

ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه کس ادعا ومنله چې د جاهلیت په وخت کې یې ځمکه غصب شوې وه. مسلم په خپل صحیح کې له وائل بن حجر څخه روایت کوي چې ویې ویل:

**"كُنْتُ عِنْدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهُ رَجُلَانِ يَخْتَصِمَانِ فِي أَرْضٍ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: إِنَّ هَذَا انْتَزَى عَلَى أَرْضِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ امْرُؤُ الْقَيْسِ بْنُ عَابِسٍ الْكِنْدِيُّ وَخَصْمُهُ رَبِيعَةُ بْنُ عِبْدَانَ قَالَ: بَيِّنَتُكَ قَالَ لَيْسَ لِي بَيِّنَةٌ قَالَ يَمِينُهُ قَالَ إِذَنْ يَذْهَبُ بِهَا قَالَ: لَيْسَ لَكَ إِلَّا ذَاكَ قَالَ فَلَمَّا قَامَ لِيَحْلِفَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ اقْتَطَعَ أَرْضًا ظَالِمًا لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ"**

**ژباړه:** *زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوا کې وم چې دوه سړي ورته راغلل چې د ځمکې پر سر یې شخړه لرله، یوه یې وویل: اې د الله رسوله! دغه سړي د جاهلیت په وخت کې زما ځمکه لاندې کړې ده (ولکه یې پرې کړې ده)، دی (مدعي) امرؤ القیس بن عابس کندي و او مقابل لوری یې ربیعه بن عبدان و، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: بینه (د اثبات دلیل) دې څه دی؟ هغه وویل: بینه نه لرم، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: نو دی (ستا مقابل لوری) به قسم کوي، هغه (مدعي) وویل: نو بیا خو ځمکه دی وړي (ګټي)، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ته پر ده یوازې همدا (د قسم) حق لرې، راوي وایي: کله چې هغه (مدعي علیه) پورته شو چې قسم وکړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې په ناحقه سره (د بل چا) ځمکه پرې کړه (ترې ولکه یې کړه)، نو له الله سبحانه و تعالی سره به په داسې حال کې مخ شي چې هغه پرې غوسه وي.*

نو چا چې د خلکو ځمکه، ځاروي او مال غصب کړي وي یا یې د رعیت او یا دولت مال په زور اخیستی وي؛ دا ټول غصب دی او د خلافت له راتلو وروسته په دې اړه دعوه منل کېږي.

له دغو درېیو حالتونو پرته هغه تړونونه، معاملې او قضاوتونه چې د خلافت تر راتلو وړاندې پیل او پای ته رسیدلي وي؛ نه فسخه کېږي. مثلاً محکمه د هغه کس ادعا نه مني چې پر هغه په ظلم حکم شوی وي او دا حکم د خلافت تر تاسیس وړاندې پلی شوی وي. ځکه حکم پلی شوی او دا کس له دې پرته چې خپل کار الله سبحانه وتعالی ته وسپاري، بل هېڅ نه شي کولی.

که څوک پر لس کاله بند محکوم وي او دوه کاله یې په بند کې تېر کړي وي چې خلافت تاسیس شي؛ په دې وخت کې خلیفه حق لري چې قضیه یې وڅېړي؛ یا یې سزا لغوه کړي او بندي ازاد کړي یا پر هغ و دوو کالو بند بسنه وکړي؛ یعنې صادر شوي حکم ته دوه کاله اعتبار ورکړي او بندي ازاد کړي یا دا چې پخواني حکم ته اعتبار ورکړي او بندي د خپل محکومیت تر پایه ازاد نه کړي؛ په ځانګړي ډول په هغو مواردو کې چې خبره د اشخاصو د حقونو او اصلاح ذات‌البین وي.